# اورين مينه

## شعري ټولګه

وینا وال

پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل)

کال

2020

## وژاړم

ما نه غوښتل بیلتون کی دی په چیغو وژاړم
یا بیا د ګودر لاره په ناهیلو وڅارم
هیڅ زغم مي پاتی نشو چي په یاد می کله راغلي
پریشا ن یم چي بی تا رنځ ترڅو به وګالم
د ستا د تغافل له کرشمو یم لیری پروت
په یاد دی چي مي راوړي له چا مرسته وغواړم
قا صد ستا د وصال هم له ما مرور شوي
له ما «مل» لاره ورک دي چي څه کړنه وکارم

****

کریفلد جرمنی -2020-01-1

## نه تیریږم

هیڅ نه یمه ناهیلي خپل هدف ته رسیږم
ځما مینه رینتیانی دی په ځنګ کی دی اوسیږم
که هرڅومره استغنا کړي له میني دی نه اوړوم
دا تا چي کړم رضا په تدبیر یی هم پوهیږم
ته هم ځما مینه بازاری عشق مه ګڼه
ته خپله ښه پوهیږی چي له عشق دی نه تیریږم
بار بار مي درته ویلي زه «مل» بیا له سره وایم
چي تا نکړم پخلا په نیمه لارکي نه دریږم

****

کریفلد جرمنی 2020-01-01

## ژړلي

له نژدی چي مي یا ر تا کله لیدلي
ته مي هیڅکله بیا نه یی هیریدلي
په لیدو دی مي خپل ځان را څخه هیر شي
چي په شونډو دی مسکا را توکید لي
وخت نا وخت له خپله حا له ځنی اوځوم
تا په نا ز سره چي ځما پخوا کتلي
په بیلتون کي دی مي اوښکي نه دریږی
«مل» په چیغو چیغو تا پسي ژړلي

****

کریفلد جرمنی 2020-01-01

## اورین شونډۍ

چي آتشین شونډۍ دی کیښود مي په شونډو
تول   نړۍ  دی  راته  وبخښل  په منډ و
ما  خولګي  د  چا له شونډو اخیستي نه وه
نه  ور  وړي  مي وه لاس دزلف  په څنډو
ما عسل  د  شونډ و  نه  وه   هیڅ  څتلي
ستا د شونډ و  عسل راکړ  حس  په خوندو
چي  د«مل»  زړه دي په مینه سره وړي
ستا همتا هیڅ  نه ویني دخوبانو په غونډو

*****   کریفلد جرمنی   2020-01-01

## بدګمان نشو

راشه چي پخلا شو   چي له سره  پیښیمان نشو
یو د بل  یاري  ته  بیا  له  سره په ارمان نشو
تیت  اوپا س په مینه کي راځی مرورکیږه مه
عمر زر تیریږي ګوره بیا چي سرګردان نشو
ستا ډیوه دمینی مي په زړه کي لا روښانه دی
مه  منه  لمسون  درقیب  ګوره چي نادان نشو
مه  لړوه  اور  د جدایي   چي  ثمر  نه  لري
ژوند  په  مینه  تیرکړو یوتر بله بد ګمان نشو

****   کریفلد جرمنی  2020-01-03

## دځواني یادونه

هغه   ستا  د  پیغلتوب  د ګودر    پر لار  نخري
ها   چي   ما  ته دی کولی سر  په  سر اشاري
ها   وختونه  د  ځواني تودی میني سری سکروتی
چي په زړه مي ستانخری وه بل کړي سری لمبي
دستا دکلي مینځ  کی  مي  وهل   هروخت ګزمي
څو ژوندی  یم  یادوم  ها   وختونه   ها  یادونه
هغه بیا  ځما  د  ځواني  تما ل  ستا  یا ریي  ته
ها  ځما اوستا   لید نی  د  هغه  برکلی   چیني

****** کریفلد جرمنی 2020-01-03

## دمینی اشاري

د سترګو په غمزو کی ستا د مینې اشاری دي
د ستا په اداګانو کې د هیلې نښا نې دي
نخری دی بی ځای نه وه ځا نته دی مایل کړم
ځما سره د تا د مینې پټی خزانې دي
چې سترګې دی په مینه ځما په سترګو لګیدلې
له هغې شیبې په ژوند کی مې بله زمانی دي
له هغې ورځی ویرېږم خدای مکړه چې جداشو
دستا چې په وعدوکې «مل» سره ډېربهانی دي

**** کریفلد جرمنی 2020-01-04

## دنوروڅه

پرما د نورو څه چې ته ځما د مینې یار یی
رقیب ولی ژړیږي داچې ته مې نګار یی
دا زه چې په لیدو سره دی هک و پک کیږم
خوبا نوکی ځما په نظر ښکلې پریوار یی
ځما او ستا د مینې افسانې خلک ته معلوم دي
داته چې د غمونو دورکیدو مې غمګسار یی
داته چې مې خیال ساتې د«مل» هم خوښیږی
ته ځما د امیدونو بی همتا ښا یسته دلدار یی

*** کریفلد جرمنی 2020-01-05

## فریاد

ځړتونو کې راولویږم بیلتون چې دی راياد شي
په زړه مې شي اور بل راپورته مې فریاد شي
چې څومره هیروم دی په مخه مې دریږي
آوازچې دی هیڅ نه اوروم احساس مې نابنادشي
بی تا یواځې ژوند په اور ځا ن سوځول دي
چې کله امیدونه د مینی نامراد شي

ها څه چي دی ویل پوره دی هیڅ ونکړه
«مل» پرید ښود یواځی ترڅو چي برباد شي

****** کریفلد جرمنی -07-01-2020

## څیری ګریوان

ما ته دی هیڅکله ځیر په مینه هیڅ ونه کتل
یا چي دی ما ته په نخرو یو ځل ونه خندل
نه می شونصیب له سروشونډودی اورین خولګی
پاتی شو ارمان په زړه می تا چي هیڅ ونه منل
دا چی زه د ستا د تغافل په لمبو سوځومه
تا له نمجن سترګو ځما اوښکی هیڅ ونه لیدل
تا له ډیر غروره خیال ځما دی هیڅ ونه سا تل
د مینی په ستنه تا د«مل» ګریوان ونه ګنډل

*** کریفلد جرمنی 08-01-2020

## بی جوړه

ستا سینګار ته حاجت نشته ته پخپله ښایسته یی
دخوبانو په محفل کی بی مثال او بی جوړه یی
دواړه سترګي رمنده دمنی په رنګ رخساردی
ای د ښکلو امیره د ښا یستوو سرکرده یی
ځما سترګی له دیدار دی هیڅ له سره نه مړیږي
ته له هریو ښا یسته نه ماته ښکلی نازدانه یی
بی له تا د«مل» په زړه کي د بل چا مینه نشته
ته ځما داورین میني د انګیزی سرچینه یی

***** کریفلد جرمنی 08-01-2020

## ویلیږي

ترخي خبری ستا هم خوږي پرما لګیږي
د ستا نا ز او ادا بی حده مي خوښیږي
د بل ښکلی مینه د زړه په تل مي نشته
بی تا د بیلتون ورځی پرما سخته تیریږي

ما مه پرېږده بېواځې چي زغم مې پاتي نه دي
له تا مې زړه هيڅوخت جا نا نه نه صبرېږي
هر وخت کله نا کله خاطر کي مي راځي
وصال پسې دې زړه مي دموم په څير ويلېږي

**** کريفلد جرمنى 2020-01-08

## دام وه

خندا دې بل څه نه وه د زړه شکارته دام وه
د سترګو اشا رې دې يا رې ته دې پيام وه
نيمرخ ليده کا ته دې پيچلې په تذوير وه
د سترګو هربا نه دي ګذار ته په قيام وه
د ښکلو په دام کي هيڅوخت انغښتې نه اوم
ځما تقوا دې ما ت کړ له وخته ستا مرام وه
بيواکه دې په زړه کړم په مينه دې اخته کړم
د ستا د کرشمو د پايلي همدا انجام وه
دزلفوپه ولول دې دستګيرزه داکتر«مل» کړم
مستي مي د ځواني وه د زړه بابيلو ايام وه

**** کريفلد جرمنى 2020-01-08

## دزلفو تاله

با ربا رمې درته ويلي نه مرېږم له وصال دې
دازه يم چي زنګيرم په خيال دزلف په تال دي
پرما دې با ور سا ته چي تا هيڅ نه هيرومه
دا ته يې چي ا يستلې دې يم له خپل خيال دې
ګيله مي له تا کيږې چي پرما نه ساتې پام خپل
ځما پخواچي نه چليږې د زلفو ستا شما ل دي
زه خودپه مينه کې دهرچا په خوله ولويدلى يم
«مل» ليد لي نه دي بل ښکلي په مثا ل دي

***** کريفلد جرمنى 2020-01-13

## مازديګرى

ستا مینی ته ځما په شان بل نشته لیونی
له خپلو ، خپلوانو چی وی شوی پردی
له شرم او له حیا بیګانه څیری ګریوان
په چیغو چیغو نوم دی چی کړي یاد ناوکی
اغزو پرسر مزل ستا کلي پوری وکړي
ریدی ګلان دسته کړي ستا وربل ته ښاپیری
د ستا د کوڅی نوم له هرچا وکړي پوښتني
چي ستا د کورمخکي وی ولاړ مازدیګری

*****

کریفلد جرمنی 2020-01-13

## نخره ګري

ترخي ترخي خبری دی پرما لګي شکري
له ما نه په دی ورځو کي چي ګرځی مروري
په نا ز او استغنا چي مي له مخي تیریږي
یا ری ته دی رضا دی شمه یوه اوس په خبری
زه هم کله نا کله د راتګ لاره دی څارم
له یا ده دی ایستي نشم ځما د زړګي سری
راځه آشنا پخلاشه چي پر«مل» سخته تیریږي
په زړه مي د بل چا مینه هیڅ نشته نخره ګري

****

کریفلد جرمنی 2020-01-13

## داګل

ما تا چي ولیدل رغبت می ویا ریدل
د ځا ن سره مي ویل داګل چیری اوسیدل

*

مسکا وه توکیدلي د شونډ و په سرو دی
رنګین دی بارخوګان مکیزی په کتو دی
پرتا چي مي نظر شو صورت می وتخنید ل
د ځا ن سره مي ویل دا ګل چیری اوسید ل

*

ما ستا په شا ن شا یسته هیڅوخت نه وه لیدلي
نه چا باندي مي زړه بې له تا وو با یللی
شا یسته دی سپین غاښونه په خوله ستا ځلیدل
د ځا ن سره مي ویل داګل چیری اوسید ل
*

ته ځما په نظر له ګلو هم شا یسته یی
له هرښکلي پیغلی په ښایست کی بی جوړه یی
ما «مل» چي ستا هیکل له لیری ولیدل
د ځا ن سره مي ویل دا ګل چیری اوسید ل

****** کریفلد جرمنی 2020-01-14

## خوندبه څه وی؟

که په یاری مي رضا نشي وایه ژوند مي څه وی؟
سترګی نمجن په ژړا بی له تا خوند می څه وي؟
*

له ډیره وخته ته ځما د زړه په تل اوسیدي
راز مي په زړه وه درته ما هیڅ نه ویلي
بی غیر د ستا د مینې چاسره اړوند مي څه وي؟
سترګی نمجن په ژړا بی له تا خوند مي څه وي؟
*

ستا په لید و سره می درد ونه تول تسکین شي
د تندی ګنځی می بیا ستا په لید و ورین شي
ستا په بیلتون کی بی ژړا به ځما وند څه وي؟
سترګی نمجن په ژړا بی له تا خوند مي څه وي؟
*

په نارامي او نا هیلی به زه تر کله اوسم
ستا له فراقه اوله بیلتونه به څه وځوروم
یا بی له تا به بود وباش می په عدن به څه وي؟
سترګی نمجن په ژړا بی له تا خوند می څه وي؟

*****

کریفلد جرمنی 2020-01-15

## نه وای لیدلی

لیدلی که می نه وای زړه ولی می بایلل
یا ستا له بیلتونه مي په چیغو نه ژړل
مین دی په لیدو کړم بیا می ته دی خپل شا کړ
له دی نه بی خبر چی ستا نیت وه څما څورول
په حسرت ستادوصال اوس څیری ګریوان ګرځم
پر ما دی هم ستا زړه تراخرونه رحمید ل
ما نه انګیرله چي پر زړه بیواکه کیږم
که «مل» ته دی په مینه له ورایه نه کتل

****

کریفلد جرمنی 2020-01-15

## ګودرکی

پرون مي په ګودر کي یا ر یواځی ولیدل
نا وخت مازدیګر وه لمردغره ترشاکید ل
پلوله مخی لیری کړ هرخوا تیاره رڼا شو
ماهم دی فرصت کی ورته څیر څیر کتل
دوریځو په مینځ کي شین خال یی ښکاریده
څما په لید په شونډو کي مسکا توکید ل
ورمی یی دزلفو «مل» فضاوه خوشبو کړي
بارخو یی له ډیر نا زه خپل رنګ بدلول

*****

کریفلد جرمنی 2020-01-16

## لطف وکرم

چیری څما هیلي چیري ستا لطف وکرم
وګوره می سترګي تا پسی ژاړی هردم
ستا رمنده سترګي می رغبت ته راپاري
هوس مي ستا خوږي مرکی ته شی صنم
دا څما تمنا ستا له خوا کله قبلیږي ؟
یا ری ته دی له وخته هسی ډیراشتیاق لرم

له تا زړه صبرويې نشم ته هم ښه پوهيږي
ترهغه چي ژوندي يم هروخت تا را يادوم

******* کريفلد جرمنی 16-01-2020

## پلمی

يارى ته دى  مي هر وخت  پلمي  جوړول
خورلنډ  دى  مي ستا کلى کى  هرخوا لټول
له کوره نه  وتى  او نه راتلى  ګودر په لور
ګودرته دراتګ لار دى مى هر وخت څارل
د ذهن  په  هنداره  مي  آنځور  دى  ولويد له
داځکه چي بى تا مي بل  هوس  هيڅ نه لرل
پوهيږم  چي  لټون  پخپل  هڅو  برى کيږي
«مل»  ځکه  له ډير وخته تا پسي  ګرځيد ل

******* کريفلد جرمنی 2020-01-16

## توفانى مينه

ويده  وى په  احتياط   ستا  تر  څنګ   وغزيدم
په مينه  او په رغبت   ستا   په  پا لنګ  وختيد م
ساړه شونډى مي خپل ستا په ګرمو شونډو کيښود
د شرم  او  د  حيا    له    پيچومي    واوړيدم
هرڅه په ځان مي ومنل چي څه راځى دى راشي
نژدى  نه  ستا  بد ن  سره  ډير جوخت  ونښليدم
پر «مل»  کي نور  هيڅ  زغم د فراق پاتي نه وه
نو ځکه  دي  په  څنګ  کى   جوړه وِغورځيدم

****** کريفلد جرمنی 2020-01-16

## دمينى دوعا

بى نصيب مي نکړي خدايه  له ليدو يى
د  خوږو   خوږو  قصو  او  مرکى يى
چي  په نا ز سره هروخت  يى  تخنولم
د  ادا  او   کرشمو     اوله   کتو يى

له لیدو یی چي هیڅوخت نه مړیدم
د سپین لیچو د بنګړو له خوږ نغمو یی
په لیدو یی چي هر وخت راپاریدم
له خندا له غمزو او له نخرو یی
ما «مل» ځان ورته له وخته سپارلي
له پر وختو اونا وختو تود وعدو یی

*******

کریفلد جرمنی 2020-01-17

## محبوبا

دحسن په سیالی کی چي ازمون وی دښکلا
ځما جا نا ن په شا ن به پیدا نشي دلربا
پستی سری شونډی په کاجل سترګي توري
په ناز او کرشمو کي بی جوړه او بی همتا
پرغاړه د سرو زرو غا ړکی یی ځلادار
وربل یی لنډه کړي خماری سترګی شهلا
د منې په رنګ رخسار یی تر او تا زه
د ښکلا په انجمن کی د(مل) دا محبوبا

*******

کریفلد جرمنی 2020-01-18

## یادونه

له خپل یادو دی هیڅ ایستلی نشم
اوښکی له سترګو درولي نشم
زړه می کوربه ستا د مینې شوی
د مینی اور دی سړه ولی نشم
داستغا نخری دی هروخت یادوم
له ډیره وخت دی هیڅ لیدلي نشم
«مل» ستا دميني په دریاب لا هو
بی ستا د مینې اوسیدلي نشم

****

کریفلد جرمنی 2020-01-18

## فال لید نه

په ورغویی بخت مي ګوره چي یار کله پخلا شي
یا ځما یا ری ته کله ها پخپل خوښه رضا شي

*

چي هرځومره ورته ګوروم راته نه ګوری خپه دي
چي له ما مرور شوي ډیر په زړه مي وسوسه دي
بخت اوفا ل به مي څه وي چي قبوله می دوعا شي
یا ځما یا ری ته کله ها پخیل خوښه رضا شي

*

ما ته ژوند بی د هغي د اوبو پر سر حبا ب دي
بی د هغي له د یداره په انکار مي زړه کباب دي
ته یوځه له بخت می وایه چي می زړه څه تسلا شی
یا ځما یا ری ته کله ها پخپل خوښه رضا شي

*

له هغی ورځي چي محروم«مل» دهغي له مرکی یم
دواړه سترګي مي نمجن غمځپلی بی حوصلي یم
وراند وینه دی څه دی چی دا آشنا کله ځما شي
یا ځما یا ری ته کله ها پخپل خوښه رضا شي

******

کریفلد جرمنی 22-01-2020

## د میني ا شاري

کتل او نه کتل یی دوه ګوني کرشمي وه
له ما نه چي زړه ویوړ بربنډ یی نخري وه
بیواکه چي په زړه کړم په شونډو یی مسکاوه
د سترګو په هر رپ کي د میني اشا ري وه
پیغام د تودي میني خندا سره لیږله
د لیچو د بنګړو یی آهنګ او خوږ نغمي وه
د شرم اود حیا فرصت له مینځ وه تللي
لیده کا ته زمونږ «مل» وتلي له وقفي وه

*****

کریفلد جرمنی 24-01-2020

## پژمرده

ستا د تندی خال سجدی ته مي کعبه دي
د نا ز اود نخرو جلوی ته می سجده دي
تا ځما د زړه په تل کي مسبوط ځای نیولي
آنځور دی هم په جیب می آشنا تل راسره دي
له انځوردی مي سترګی بل طرف ته نه اوړي
یادونه دی همیش مي په ذهن کي میشته دي
په حسرت ستا دوصا ل زه «مل» یم په تلوار
بی تا می آشنا ژوند بی رونق او پژمرده دي

****** کریفلد جرمنی 2020-01-26

## نګار

د وریځو له کما نه په با نو کوي ګذار
د سترګو په غمزو سره د زړه کوی شکار
کتو سره په زړه کی سری لمبی بلوی
د نښو په ویشتو کی نشا ن زن او بیدار
د میني روغه جوړه په آسا نه نه کوي
په ناز او استغنا کی زړه راښکونکی مکار
د نا ز په تغا فل کله په جنګ کله په سوله
په حسن اوجمال کی نشته «مل» داسي نګار

***** کریفلد جرمنی 2020-01-28

## یادونه

یوچا له ما زړه وړي چي مي انځوری نه یادیږی
دهغي بیا اداګان او تود نخری یی مي نه هیریږي
*

د میني په طغیا ن کی اړخ په اړخ را تا ویدلو
یوبل سره بسترکی ځنګ په ځنګ چي غزیدلو
هغه شیبي هر وخت مي په ذهن ر اولویږي
یوچا له ما زړه وړي چي مي انځور یی نه یادیږي

*

کمیس یې دحریر وه په کاجل وه سترګي توري
دګوتو په نوکا نو ښا یسته رنګ وه کړي پوری
اوس دهغي له بیلتونه مې هیڅ اوښکي نه وچیږي
یوچا له ما زړه وړی چې مي انځور یې نه یادیږي
*

ښا یسته بدری جما ل وه پرسر اغوستي شا ل وه
پاسته نا زکي شونډی په ښکلو بې مثال وه
په مخ مې«مل» اوس هم کله په خندا سره دریږي
یوچا له ما زړه وړی چې مي انځور یې نه یادیږي

******

کریفلد جرمنی 28-01-2020

## پخواني مینه

یوا ځې مه مي پریږده بیلتون زغمي نشم
ستا له اورین مینې هیڅوخت وتي نشم
*

تا سره مینه ځما څو ورځنی نه دي
ستا پخواني مینه خوهیڅ پروني نه دي
بې له تا بل ښکلي ته هیڅوخت کتي نشم
ستا له اورین مینې هیڅوخت وتي نشم

*

د نیا مې ودان دی چې ته راسره یې
چې ما سره په څنګ کې ته جوړه یې
ستا له مینې هیڅکله ترشاکیدای نشم
ستا له اورین میني هیڅوخت وتي نشم

*

پرتا ویاړی «مل» چي ته مي نګاریې
ځما په غمونو کې همدم و غمګسار یې
بې تا زه هیڅکله تنها اوسیدای نشم
ستا له اورین میني هیڅوخت وتي نشم ----- 2020-01-30

## ولګید م

په غشو د بانو دي په سینه ولګید م
ښه نښه دی نیولي وه سیده ولګید م
پرما چي دی نظرشو په شونډو دی مسکاوه
د سترګو په کتو ستا په غمزه ولګید م
ځما دزړه شکارته دی پلمی وه جوړ کړي
د ناز او نزاکت دی په اشاره ولګید م
ایما او اشاروسره له «مله» دی زړه ویوړ
د ورځیو د لیند یو په تیغه ولګید م

***** کریفلد جرمنی 30-01-2020

## جانان

پرهیز دی ځما مات کړ خلاص دی پرینښی وه ګریوان
له شرمه دی پردی کړم په غمزو د تور چشمان
په ادا او کرشمو دي بی اختیار وپا رید مه
د نا ز له تغا فله دي کړم اومه په اور بریان
د سترګو په جنګ نه اوم تلی کله کوم صنم ته
د تا سره د سترګو په جنګ ما ت اوښکی روان
د ستا د ښکلا دواړه سترګي مي شاهد دي
«مل» ستا په شا ن ښا یسته لیدلی نه دی بل جانان

**** کریفلد جرمنی 30-01-2020

## نه هیروم

په زوره دی خپل مینې ته نه مجبوروم
ځما دومره خوښیږم چي تا نه ځوروم
ها څه چي ستا وی خوښ هغه هم ځما خوښ
زه هم ستا هره خوښی خوښ او خوښووم
هر نا ز او ادا دي په لیمو خپله اخلم
هیڅکله ستا وقا ر ته ضرر نه رسووم
په ورین تندي وایم چي د«مل»ته ډیرخوښیږي
احسا س ستا د مینی هم هیڅوخت نه ردووم ...

***** کریفلد جرمنی 31-01-2020

## دمینی رغبت

رغبت می ستا میني ته له پولي اوریدلي
هروخت چي مي راياد شي بیواکه مي ژړلي
په مخه چي مي راغلي ستا به په یاد وی
درخواست می دمینی چي دی هیڅ ونه منلي
د نا ز په تغا فل سره دي وکړل ډیر نخري
ګدا سترګي ځما ته دی هیڅ ونه کتلي
اما هر کرشمی ستا د میني ا شا ری وه
ما «مل» ستا د میني اشاري په یاد سا تلي

***

کریفلد جرمنی 2020-01-31

## میله وه

چي په مینه مي رضا شوی خاطره وه
ننګرهار کي د نارنج د ګل میله وه
د نارنج دګل پرهرخوا خوشبویي وه
په ګودرکی ما سره ستا وعده وه
یود بل سره چي کله مو روغبړ کړل
دواړه سترګی له حیا ستا رمنده وه
زه ستا مینی ته اوم هسي پاریدلي
چي تلوار مي ستا دشونډو دبوسه وه
هغه ورځ به له «مل» هیڅ هیر نشي
چي مو زړونه ډیر په مینه توده وه

*******

کریفلد جرمنی 2020-02-02

## سترګي

ما سترګي د ښا یستوو په ادا لیدلي نه وه
یا ما ته کومه پیغله په هوس خندلي نه وه
د ښکلو د میني سره یا زه رورېده نه اوم
یا لاس می د خوبانو په زلفو وړلي نه وه
چي تا سره مي کله له نژدی ولیدله
بیا ما هیڅکله تا له یاده ایستلي نه وه

له هعي ورځي چي زړه مي بيواک درپسي تللی
هيڅوخت مي دومره ځيردرته«مل» کتلی نه وه

****

کريفلد جرمنی 2020-02-03

## اميره

ای د برکلي انجيليه د خوبا نو اميره
د زلفو په حلقو دی بند شوی اسيره
په هرپل کي دی اوروم شرنګ د بنګړو
را رسي مي غوږو ته آهنګونه عزيزه
له حده مي هوسی ستا وصا ل ته کيږی
له ما نه لاره ورکه څه وکړم تد بيره
ته ځما د«مل»دمينی اولين اواخرين يي
په مينه دی اوس شوی رسوا اوشهيره

****

کريقلد جرمنی 2020-02-03

## تسلا

نه ترشا دی کيږم خوچي نه دی کړم رضا
ما فيصله کړي چی دی ولويږم په درګا
نشمه هيڅ پوه چی له ما ولی مرور يي
زه لاری لټوم اوس چی تا بيا کړم پخلا
تاولی کړمه هير ته خوځما دسترګو توری
د تا سره مي مينه عام وخاص کی رسوا
ما ستا ناز اونخری په ليمو خپل اخيستي
دا ته يی چی د«مل» زړه ته راکوي تسلا

******

کريفلد جرمنی 2020-02-04

## همدم

تېو ته مي ملهم ځما د زړه همدم
ډ ير زړه ته مي نژدی ځما ښکلی صنم
دوه سترګی دی ښايسته محجوب او رمنده
هر وخت مي يادېږي په مينه دی قسم

له سترګو دی مینه په غمزوسره اوریږي
په مخ می ته دریږی هروخت اوهردم
زه خپل هوسا ینه د ستا په یا ري ګوروم
بی تا د بل ښکلي ترشا نه ایږدم قدم

****** کريفلد جرمنی 2020-02-04

## مینه وکړو

راځه چي چیرته لاړشو بی جنجاله مینه وکړو
چي زړه ته مو شی مینه هرمهاله مینه وکړو
د ډیرو رقیبا نو له سترګو ځا ن پناه کړو
یو بل سره په شوق بی مثا له مینه وکړو
ته ما ته په ناز وګوري زه ستا نازونه واخلم
په شوق اوپه هوس سره فلحاله مینه وکړو
د میا شتو اود کلونو د بیلتون تنده کړو ما ت
پا لنګ د پا سه دواړه بی خیا له مینه وکړو
د«مل»سره دمیني له کندوله ځان سیرآب کړو
نیشو کی سره دواړه بی ملاله مینه وکړو

**** کريفلد جرمنی 2020-02-04

## دزلفو شما ل

د زلفو شما ل دی نه چلیږی ځما پخوا
تا ښنګه کړمه هیر نه می کیږي تسلا
چي ودی نه وینمه له ځا نه خپله ځمه
ستا مینه رانه وړي طبعی شرم وحیا
ولول خوری وری تورزلفان دی می یادیږی
ځا ن نشمه نیولي بی اختیا ر را ځی ژړا
خندا دی بل څه نه وه د«مل» زړه تسلیمی وه
په مینه شم نا کا مه ته هم نشولی پخلا

****** کريفلد جرمنی 2020-02-05

# نه مي ژړل

که نه مې خوښيد ی درته نه مې هيڅ ژړل
یا ستا جفا د لاسه درته نه مي هيڅ کتل
دا ته وی چي په مخه مې په شونډو دی مسکاوه
مسکا که دی ساتله ماهم تاته هيڅ شا نه اړول
تا خپله د ميني وعده دی را ته راکړ
وعده که دی ساتله ما هم ستا مينه ساتل
«مل» تاته ویلی چي له تا زړه صبروی نشي
که رغبت مې تاته نه وایی درته هيڅ مې نه خندل

******

کريفلد جرمنی 2020-02-05

## ژړلی دي

بی تا مي په بيلتون کي ډير بيواک ژړلي دي
چي ته مي راياد شوي يې بيواک ژړلي دي
خا طرته مي راوړي ستا د نا ز خوږي خبري
بی اختيا ره درپسي مي په ږواک ژړلي دي
ما هيڅ نه انګيرله چي له تا به جدا کيږم
په حسرت ستا دوصا ل مي وچعناک ژړلي دي
په سترګو مي خوب نه وه اړخ په اړخ راتاويدم
«مل» ستا نخره کر پسي سوزناک ژړلي دي

***

کريفلد جرمنی 2020-02-11

## ازموده که

پرما چي دی باور شي يوځل ته مي ازموده که
له سري نازکي شونډی دی خولګی مې په خوله که
راتاوو کړه دواړه لاس دی له املا مي په ډير مينه
بيا زلفی دی ولول خپل په مخ مي ګڼ خوره که
د تير ناخوالو ورځو د بيلتون په بد له کي
د شونډو د بوسو په تسلسل مي بدرقه که
زنګون باندی دی پريږده چي کيږدم خپل سر
خپل «مل» دي په خوږو مرکو په خوب ويده که ....09-02-2020 کريفلد

## افسانه کړم

هومره مینه در سره کړم که رضا ستا په زړه کړم
چي د میني په تاریخ کي د خوږ میني افسانه کړم
هسي ودی نازومه چي حسرت د نورخوبا ن شي
چي په مینه دی خپل هسي تا ته لوخ ازموده کړم
خاطرو کی به کړي یاد ځما اورین میني دی ځا نته
چي د سپین مخ په شغلو دي لکه موم ځان ویله کړم
د انتظا ر سترګي مي څا ری د راتګ ستا قد مونه
چي«مل» ستا دقدم خاوری پخپل سترګوکي رانجه کړم

****

کریفلد جرمنی 2020-02-07

## دمینی پیوند

ځما او ستا په مینځ کي د میني پیوند دي
چي مینه مینځ کي نه وي هغه ژوند بی خوند دي
یو بل ته چي د میني دلګرمی په زړه نه وي
دوه ورځی یا راني بیا پر مینه لوی ملند دي
د ګل سره داغزی محنت چي څوک ونه کاږي
د بی اغزن ګلونو عمر په ګلبو تو کي لنډ دي
ستا مینه آشنا ځما د«مل» د ژوند مزه دي
بی تا ماته مینه بی دغاښ سره سخت شخوند دي

******

کریفلد جرمنی 2020-02-10

## بیواکه